مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکونکي:
Brüder Grimm
ژباړن: رڼاګل اریوبزی

۲۰۲۲/۰۵/۰۶

# دوولس ښکاریان

## د ماشومانو له پاره لنډه کیسه

په ډېره پخوانۍ زمانه کې یوشهزاده ژوند کاوه. دې شهزاده له یوې جلۍ سره کوژده کړې وه. جلۍ ډېره په ګرانه وه. یوه ورځ چې په مینه او خوشالۍ دهغې ترڅنګ ناست و، خبرشو چې پلار یې ډېر ناروغ او دمرګ په حالت کې دی. هغه غوارۍ چې ترمرګ وړاندې دی یو وار وګوري. ده خپلې ګرانې کوزدې ته وویل چې:« زه باید لاړشم اوته به د لته پاتې شې، دا ګوته مې دنښې په توګه واخله، کله چې پا چا شم بیرته راځم اوتا له ځان سره بیایم.» دا یې وویل اونور په آس سپورشو اودخپل پلار په لور روان شو. کله چې وروسید ویې لیدل چې پلارېې سخت ناروغ اود مرګ په حالت کې پروت دی. پلار ورته وویل چې:« ګرانه زویه! ماغوښتل چې تر مرګ وړاندې دې وګورم. دا وعده راسره وکړه چې زما په خوښه اوارا ده به واده کوې.» دایې وویل او ور پسې یې دکوم پاچا لور په ګوته کړه چې زوی به یې د هغې سره واده کوي. شهزاده دخپل پلار په وېر کې داسې ډوب و چې بې فکره یې وویل.« هوګرانه پلاره! څه چې ته غواړې هغسې به کیږي.» په دې شیبه کې یې پلا ستر ګې پټې کړې او مړشو.اوس نو چې دوېر اوغم وخت تېر شو اوشهزاده پاچا شو، نوغوښتل یې چې په هغه وعده ودرېږي چې دپلار سره یې کړې وه، د پاچا لور پسې یې استازي ولیږل او هغې خوا هم ومنله. دا خبر چې کله د ده پخوانۍ کوزدې ته ورسید، هغه ډېره غمګینه شوه اوشپه اوورځ به خپه وه. یوه ورځ یې پلار وپوښتله چې:« لور جانې! دا ته ولې دومره خپه یې؟ ته چې هرڅه غواړې، هغه به وشي.» لور یې یوه شیبه له ځان سره په فکر کې شوه اوبیایې وویل چې:« پلارجانه ! ماته یوولس داسې جونه پیدا کړه چې په ونه راسره برابرې وي او کټمټ زما په شان ښکاري.» پلار یې وویل چې:« که امکان ولري نوستا غوښتنه به ترسره شي.» بیایې امروکړچې ټوله پاچاهي و لټوی اویوولس داسې خوانې جونه پیدا کړی چې په رنګ، ونه اوځوانۍ زما دلور په شان وي.

کله چې دا یوولس جونې شهزاد ګۍ ته راغلې، شهزاد ګۍ د ښکاریانو دوولس جوړه جامې، چې هر جوړه یې دبلې په شان وه، جوړې کړې. یوولس جوړې یوولس جونو واغوستې او یوه جوړه شهزاد ګۍ واغوسته. ور پسې یې د پلار سره خدای په اماني وکړه او دوولس واړه په آسانو سپرې اودخپل پخوانې نامزد د دربار په لور، چې ډیر په ګران و، رواني شوې. چې وروسیدې نو د پاچا نه یې پوښتنه وکړه چې که ښکاریانو ته اړتیا لري اوایا دوی ټول به په خپل دربارکې دښکاریانو په توګه وټاکي؟ پاچا ورته وکتل، خوویې نه پیژندې. ویې لیدل چې ښکلي خلک دي نو ورته ویې ویل چې هو! زه تاسې ټول دښکار یانو په توګه ګمارم. په دې توګه دوولس واړه دپا چا ښکاریان شول.

پاچا یو مزری درلود اودې مزري یو کمال درلود. کمال یې دا و چې په پټو اونه ښکاره کیدونکو شیانو هم پوهیده. دې مزري یوه ورځ پاچا ته وویل چې:« ایا فکر کوې چې ته دوولس ښکاریان لرې؟» پا چا وویل چې:« هو! دا دوولس ښکاریان دي.» مزري ورته وویل چې:« نه، ته اشتبا کوې. دا دوولس ښکاریان نه دي، دا دوولس جنکۍ دي.» پاچا وویل چې دا سمه نه ده. څنګه کولی شي چې راته ثبوت یې کړې؟» مزري ورته وویل چې:« ته دخپل د فتر په مخکنی کوټه کې مشنګ وشنه،

سړي چې کلک ګامونه اخلي، په مشنګو باندې دتګ په وخت نه ښوییږي، نه رپیږي او نه لړزیږي اوښځې لنډ ګامونه اخلي، رپیږي اولړزیږي. دپاچا دا مشوره خوښه شوه او امر یې وکړ چې موشنګ وشیندی.

هلته دپاچا یونوکرو. ده د ښکاریانو په وړاندې ښه نیت درلود. ده د پاچا او مزري تر منځ خبرې واورېدې چې ښکاریان ازمویي، نو ورغی اوورته ویې ویل چې:« مزري پاچا نه وویل چې تاسې جنکۍ یې.» شهزادګۍ له دې سړي نه مننه وکړه او دانوره جنکۍ یې راټولې کړې او ورته یې وویل چې:« خپل ټول قوت مو راټول کړی اوپښې مو په موشنګو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ټینګې ږدي.» په دابله ورځ پادشاه دا دوولس ښکاریان ځانته راوبلل او امریې وکړ چې په مخکنۍ کوټه کې مشنګ وشني. دوولس ښکاریا راغلل او هغه کوټې ته ورننوتل چې مشنګ یې پکې شندلي وو. دوی په ډاډه زړه او محکمو قدمو رواني وې، یوه یې هم ونه لړزیده، ونه ښوییده او ونه ریږدیده. دوي بیرته ولا ړې او پاچا مزري ته وویل چې:« دروغ راته وویل، دوی ټول دنارینه وو په شان روان وو.» مزري په خواب کې ورته وویل چې:« دوی پوهول شوې وې چې ازمویل کیږي، نوځکه یې محکم قدمونه اخیستل. اوس نو ته د داوبدلو څرخ دې کوټې ته راوغواړه، کله چې دوی دلته راشي او دا څرخ ووینې، نو خوشاله به شي، خونارینه دهغه په لیدو هیڅ نه خوشاله کیږي. دا مشوره دپاچا خوښه شوه او داوبدلو څرخ یې مخکنۍ کوټې ته راوغوښت. دپا چا نوکر چې دښکاریانو په وړاندې یې ډیر ښه نیت درلود، بیا ورغی او هغوی ته یې دا راز هم ښکاره کړ. کله چې نوکر ولاړ اوشهزادګۍ دجنکیو سره ګوښې پاتې شوه، ورته ویې ویل چې:« باید په کلکه پام ونیسی اوداوبدلو څرخ په لور هیڅ ونه ګوری.» په بل سبا پاچا خپل دوولس ښکاریان دې مخکنې کوټې ته بیا راوغښتل. دوی راغلل خو داویدلو څرخ ته یې هیڅ ونه کتل. پاچا بیا مزري ته وویل چې:« زه دې وغولولم. دا خو نارینه دي، ځکه چې څرخ ته یې هیڅ ونه کتل.»مزري ورته وویل چې:« دوی ته ویل شوي وو چې ازمویل کیږي، نو ځکه یې په قصد څرخ ته ونه کتل.» نورنو پاچا دمزري په خبرو باور نه کاوه.
دا دوولس ښکاریان همیشه د پاچا سره په ښکار پسې تلل. ښکاریان د وخت په تیریدو په پاچا ډیر ګرانیدل. د ورځو نه یوه ورځ، کله چې دوی په ښکار پسې ووتل، خبر شول چې د پاچا کوزدې د واده جامې واغوستې. کله چې دا خبر دپاچا اصلي کوزدې واورید دومره غمګینه شوه چې نږدې و چې زړه یې راووزي او بې ځانه په مځکه ولیده. پاچا پوه شو چې دې ګران ښګاري ته یې څه ور پیښ شوي دي، ور منډه یې کړه اوغوښتل یې چې مرسته و ر سره وکړي. کله چې یې د لاس نه لاسمغان وایست نوهغه ګوته یې ولیده چې ده خپلې لومړۍ کوز دې ته ورکړې وه. او بیایې چې مخ ولید نو ویې پیژند له اودهغه په زړه کې یې ځای ونیو. کله چې دې سترګې وغړولې، پاچا ورته وویل چې:« ته زما یې اوزه د ستایم. په دې ټوله دنیا کې به هیڅوک ونه شي کولی چې موږ یوله بله بیل کړي.» ده هغه بلې کوزدې ته یو استازی ور ولیږه او هیله یې تری وکړه چې خپلې پاچا هۍ ته بیر ته ستنه شي، ځکه چې دي اوس یوه میرمن لري. څوک چې پخوا نۍ کلي بیا پیدا کړي نوې کلې ته ضرورت نه لري. ورپسې لوی اوښکلی واده جو شو او مزری هم وبخل شو، ځکه ده رښتیا ویلي و.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ